**اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسون د مالي او اداري چارو لومړنی طرحه**

جوړښت

اوله ماده:

دغه وړاندیز د افغانستان د جمهوري اسلامي دولت د کابینې د ۱۷/۷/۱۳۹۸ د رسمي شمیرې پر اساس د مالي او اداري چارو د تنظیم او برابروالی په خاطر وضع شویده.

د کمیسیون جوړښت

دوهمه ماده:

کمیسیون د لاندې برخو څخه جوړ شوی

۱ -د کمیسیون غړې چې له اوو غړو څخه جوړ شوي د جمهور رئیس لخوا د خبرتیاوو ته د لاسرسی د قانون د شلمي مادې د حکم پر اساس ټاکل کیږي.

۲ -دارالانشأ چې د دارالانشأ ریاست او ادري واحدونه د هغه د اثر لاندې چې د کمیسیون اجرایی او اداري چارې د خبرتیاوو ته د لاسرسی د قانون د احکامو سره سم، د دندو لایحې، دکمیسیون د غړو رسمي پریکړې، د کمیسیون تولیزه او استراتیژیکي موخي ترسره کوي.

۳ -د کمیسیون قراردادي کارکوونکي چې د مالي امکاناتو او اړتیاوو پر اساس د قانوني اسنادو د احکامو پوري اړوند ګمارل کیږي.

ځواب ورکونه

دریمه ماده:

۱ -د دوهمي برخي درج شوي اجرایی او اداري واحدونو د دې وړاندیز دوهمه ماده له خپلو اجراآتو نه د کمیسیون د دارالانشأ رئیس ته ځواب ویوونکی ده او دارالانشأ بیا د ټولیز ټول په توګه د کمیسیون استازو ته راپور ورکوي.

۲ -کمیسیون د یوې واحدې اداري په توګه د اطلاعاتو ته د لاسرسی قانون د دوه ویشتمي مادې لومړی فقرې د شپږمي برخي سره سم جمهور رئیس، ملي شورا، او همدارنګه ټول ملت ته ځواب ویوونکي وي.

۳ -د کمیسیون د کار کوونکو راپورونه او کاري طرحې د اونیز، میاشتنی، ربعوار او کلنی په توګه مسؤلو آمرینو ته وړاندې کیږي او د هغوی لخوا بیا د تأیید وړ او منظور کیږي.

۴ -د کمیسیون د کار کوونکو د کلنیو کارونو ارزیابي د ملکي خدمتونو د کار کوونکو د قانون د احکامو پر بنسټ د هغه قانون د درج شوو فارمتونو مطابق ترسره کیږي.

۵ -د کمیسیون کار کوونکي یوازې د اړوندو آمرینو، د دارالانشأ رئیس او د کمیسیون د غړو د قانوني هدایاتو او امرونو په اجرأ کولو مکلف دي او نسبت د هغوی قانوني امرونو ته ځواب ویوونکي دي.

۶ -د مسؤلو آمرینو لخوا د غیر قانوني امرونو د جبري ترسره کولو په صورت کې کار کوونکي کولی شي همدا غیر قانوني موضوع په لیکلئ بڼه د دارالانشأ رئیس او بیا د دارالانشأ د رئیس او کمیسیون د غړو د غیر قانوني هدایاتو د صادرولو په صورت کې کار کوونکي دا موضوع په لیکلئ بڼه باندې د کمیسیون رئیس ته خبر ورکړي.

د کاري اړیکو تګلاره

څلورمه ماده:

۱ -د لیکلی اړیکو د وسایلو : لیک، وړاندیز، خبر پوښتن (سربیره د کمیسیون د اجرایی او اداري واحدونو ترمنځ اړیکې په الکترونیکي(بریښنالیکپه )توګه هم د باور وړ دی.

۲ -دکمیسیون مالي او تدارکاتي موضوعګاني ددې وړاندیز د لومړۍ فقرې په حکم کې نه شاملیږي.

دکمیسیون د کار کوونکو رخصتۍ

پنځمه ماده:

۱ -رخصتیو ته اړوند چارې د کمیسیون د کار کوونکو د تنخوا معاش د کار قانون د ۳۹ —۵۸ مادو د احکامو پر اساس برابریږي.

۲ -په هغه صورت چې کار کوونکي د رسمي وخت په لړ کې په بیړنۍ توګه د نیمې ورځې رخصتي ته اړتیا پیداکړي کولای شي د بشري سرچینو د رخصت ټکټ یا پاڼه ډکه کړي او د آمر او یا دارالانشأ رئیس د موافقې سره سم رخصت واخلي.

۳ -د نیمې ورځې رخصتی چې ددغې مادې په دوهمه فقره کې درج شوي د کار کوونکو په قانوني رخصتیو نه حسابیږي.

د جوړښت زیاتوالی

شپږمه ماده:

۱ -کمیسیون خپل ولایتي او ساحوي فعالیتونه دکمیسیون کلنی بودیجې او د ننني داخلي ظرفیت ته په کتو سره پراختیا ورکوي او په اړه یې ځانګړې طرحې او پلانونه تر سره کوي.

۲ -د کمیسیون جوړښت هر کال د اړتیا سنجولو پر اساس د دارالانشأ لخوا چمتو ، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د کمیسیون د تأیید نه وروسته د منظوري د ترلاسه کولو په خاطر د جمهوري ریاست مقام ته وړاندې کیږي.

۳ -د بودیجې د شتون او کمیسیون د غړو د موافقې د اړتیا په صورت کې کمیسیون د قانون سره سم اړینو ځانګو ته مسلکي مشاورین په قراردادي توګه د مناسبې معاش په ورکړې سره ګماري.

د ظرفیت لوړتیا

اوومه ماده:

۱ -د کمیسیون د بشري سرچینو آمریت هر کال د کمیسیون د کار کوونکو د ظرفیت لوړتیا لپاره د اړتیا سنجولو پر اساس ځانګړی پلان چمتو او عملي کوي.

۲ -کمیسیون ځانګړی بودیجه د پلان د عملي کولو او ظرفیت د جوړولو په خاطر چې ددې مادې په لومړۍ فقره کې درج شوی دکمیسیون په کلنی بودیجه کې په پام کې ونیسي.

۳ -کمیسیون د کار کوونکود ظرفیت د لوړتیا لپاره د مخکنی اړتیا سنجولو او په دې ماده کې د درج شوي پلان پر اساس لاندې پروګرامونه عملي کوي.

۱ *د کمیسیون په دننه کې د لنډمهالو ښوونیزو پروګرامونو په لاره اچول.

۲ *د کمیسیون د کار کوونکو ور پیژندل لنډمهاله ښوونیزو پروګرامونو او هغو تحصیلي بورسونو ته چې د بهرنیو هیوادونو لخوا د قرارداد پر اساس د افغانستان دولت ته برابریږي.

۳ *د کمیسیون د کار کوونکو ورپیژندل د داخلي تحصیلي مؤسساتو او بنسټونو په ښوونیزو پروګرامونو کې د کمیسیون د دوه اړخیزو پریکړو پر اساس.

۴ -په دغه وړاندیز کې د ښوونیزو پروګرامونو وخت نشی کولی چې له دوو کلونو زیات وي.

۵ -کار کوونکي د لنډمهال او اوږدمهالي زده کړې په دوره کې د خپل کاري دورې له معاش څخه برخمن کیدایشي مګر داچې و نه توانیږي دا ښوونیز پروګرام په بریالیتوب سره بشپړ کړي.

۶ -کمیسیون کار کوونکي د ښوونیز دورې په بریالیتوب سره تر بشپړیدو وروسته د اړتیا سره سم او د قانوني اسنادو په شتون کې مناسب بست ته ټاکي.

د استخدام شرطونه

اتمه ماده:

۱ -د کمیسیون کار کوونکي د آزادې سیالی له لارې د ملکي خدمتونو د کار کوونکو د قانون پر اساس جذبیږي.

۲ -دکمیسیون د بستونو غوښتونکي سربیره د عمومي شرایطو په لړلو سره چې په اوومه ماده کې ځای پرځای شوي دملکي خدمتونو د کار کوونکو قانون او د هر بست لپاره ځانګړې شرایط چې د هغه قانون په اتمه ماده کې ځای پرځای شوی

د صلاحیت لرونکي محکمې لخوا په اداري فساد باندې تورن شوي نه وي.

دکمیسیون د کار کوونکو معاش او امتیازونه